**بسم الله الرحمن الرحيم**

**راډيکالېزم؛ د بشپړ اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د جګړې په موخه د پانګوالی طرحه**



(ژباړه)

له اسلامي امت لاره ورکه ده او د کفارو له پرلپسې شکنجو ستړی شوی دی. دغو فشارونو له تروریزم سره د جګړې يا د راډيکالېزم پر وړاندې جګړې له پلمو سرچینه اخیستې ده، چې په پایله کې پر اسلامي امت دومره ظلمونه شوي چې د دا ډول عمل وړ نه دي او دغه شعارونه پر سلامي امت د ظلم په موخه کارول کېږي. نو پر موضوع د ښه پوهېدو او د دغه واقعیت رښتیني تصویر اخیستو لپاره ښه دا ده، چې د دغو شعارونو مفهوم وپوښتل شي.

دې ته په کتو چې ترورېزم څه شی دی، مخکې په دې اړه بشپړ بحث شوی دی؛ خو دا چې راډيکالېزم څه شی دی؟ په ځواب کې باید وویل شي چې د سیاست په علم کې د ځواکمنو وسایلو په وسیله د ټولنې د بدلون په موخه د راپارول شوي ځواک په مفهوم دی. همدارنګه د یو شي د اصلیت د بدلون په مفهوم هم کارول کېږي. په پایله کې یاده کلمه په یوازې توګه د یو شي ښه والی او بدوالی نه ښیي، خو د نورو کلمو تر څنګ د یو شي ښه والی او بدوالی ښودلی شي. په وروستیو کې د اروپايي او امریکايي امنیتي جوړښتونو له لوري د یادې کلمې لپاره یو لړ غوښتونو ته په کتو نوی مفهوم وټاکل شو، چې دغه مفهوم له هغو کسانو څخه عبارت دی، چې د یوې ټولنې د دود خلاف داسې بنسټیز بدلونونه رامنځته کوي، چې د تاوتریخوالي او وینې تویېدنې لامل کېږي.

هغوی ترورېزم او راډیکالېزم ورته لفظونه بولي او غواړي د هغو کسانو هویت بدنام او تر پوښتنې لاندې راولي چې د ځمکې د بیا راژوندي کولو او عمران هڅې کوي؛ ځکه له هغو مسلمانانو پرته چې د اسلامي نظام د تطبیق غوښتنه کوي، نور داسې څوک نه شو موندلی چې د پانګوالی اېډیولوژۍ پروړاندې، چې د پرمخ وړلو چارې يې لږ شمېر کسان په غاړه لري او په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او تعلیمي برخو کې د انساني چاپېریال د نابودۍ لامل شوې، ودرېږي. دا همغه مسلمانان دي چې نن د راډیکال خطاب ورته کېږي او پخوا تروریستان بلل شوي وو. دا ډول تورونه نوي نه دي؛ بلکې ډېر وخت کېږي چې کفار پر مسلمانانو د ظلم لپاره دروغجنې ټاپې لګوي.

کینیا هغه هېواد دی چې غواړي خپل تاریخ هېر کړي، ځکه کله چې بښکېلاکگر انګلیس دغه هېواد اشغال کړ؛ کرنیزې ځمکې یې کډوالو ته ور کړې او د دغې خاورې بومي خلک یې ځنګلونو ته وشړل. کله چې دا ظلم ډېر شو، سمه بیز خلک له افراطي ډلو سره یوځای شول، د هغوی پر وړاندې ودرېدل او د خپلو حقونو لپاره یې له ښکېلاک سره جګړه وکړه، چې له جملې یې په کینیا کې د انګلیستان د امپریالېزم پر وړاندې د (Mau Mau) په نوم یوه لویه ډله ګواښ وه. د انګلیس دولت د دغې ډلې پر وړاندې د جګړې لپاره په ټولنه کې د وېرې رامنځته کېدو لپاره یو لړ قضایي وژنې او قتلونه وکړل او وروسته یې یاده ډله په افراطي ډله ونوموله. انګلیس به چې د دا ډول جنایتونو په دوام کې کوم کسان نیول، هغوی به یې یو اروا پوه ډاکتر جې سي کرودرز ته ورپېژندل. نوموړي ډاکتر به له طبي څېړنو وروسته داسې ادعا کوله چې د علمي شواهدو پر بنسټ د (Mau Mau) یاغي ډله سیاسي مخالفین نه دي، بلکې رواني ناروغان (لېوني) دي؛ حتی دا به یې هم ویل چې د لېوني انسان وژل څه ستونزه نه لري.

نو پر دغه اساس راډیکالېزم داسې یوه پلمه ده، هغه مسلمانان چې په خپله ټولنه کې د اسلامي عقیدې راژوندي کېدل غواړي، خپله موخه ګرځوي. دا اړین امر دی، ځکه د حق او باطل تر منځ جګړه د ژوند، انسان او کایناتو له پیدایښت بیا تر قیامته دوام لري؛ خو په دغه پېړۍ کې چې موږ د کوم څه شاهدان یو، هغه دا دي چې د اسلامي عقیدې او د غربي پانګوالې فاسدې اېډیولوژۍ ترمنځ سخته جګړه روانه ده، امریکا او ملاتړي یې د ډیموکراسۍ، ازادۍ، ازاد بازار او په نورو نومونو سره د دغې مفکورې ملاتړ کوي. د دا ډول جګړې لپاره لومړی امریکا او متحدینو یې د اسلام د له منځه وړلو لپاره قانون جوړونه، تګلارې او سیاستونه رامنځته کړل او په دې سیاستونو کې د ترورېزم، راډیکالېزم او نورو پر وړاندې جګړه وې، چې دا ډول سیاستونه مسلمانان په مختلفو ډلو ویشي:
**لومړی:** هغه مسلمانان چې سېکولرېزم یې منلی او په هغه کې د خوند اصالت، شراب څښل، سرغړونه، تقلب او نور مباح بولي.
**دویم:** منځلاري مسلمانان بیا هغه دي، چې اسلام او پانګوالي دواړه غواړي.
**دریم:** راډیکال مسلمانان هغه دي، چې له سلام پرته بل هېڅ دین نه مني او له لومړۍ او دویمې ډلې سره مخالف دي او په انفرادي او ټولیز ډول په ټولنه کې د اسلام پلي کېدل غواړي، هغه د ژوند بشپړه تګلاره بولي، د امت چارو تنظیمولو په موخه د نبوت پر منهج د اسلامي دولت راژوندي کېدو لپاره داسې برنامې او پلانونه لري، چې د قران، سنتو او قیاس پر بنسټ پر مخ ولاړ شي.
هغه قوانین چې د کېنیا دولت په دې برخه کې تصویب کړي، په دې ډول دي:
۱. د ترورېزم مخنیوی.
۲. د امنیتي قوانینو تصحېح.
۳. د تند افراطیت پر وړاندې ملي ستراتیژي.
۴. ځانګړی سیاسي استازی درلودل چې د افراطیت پر وړاندې مبارزې په سر کې وي.
دغه قوانین له ترورېزم سره د مبارزې په ۱۶ام نړیوال کنفرانس کې چې د ۲۰۱۶ م د سپتمبر پر ۱۳مه د اسرائیلو په شارون هرزېل هوټل کې جوړ شوی و، تصویب شول. له دغه ډول قانون جوړونو، تګلارو او سیاستونو سره په ټوله نړۍ په ځانګړي ډول کېنیا کې د اسلامي امت پر وړاندې ظلمونه ډېر او پراخ شول. همدارنګه مسلمانان په سوریه، فلسطین، افغانستان، ازبکستان، اردن، عراق، برما، یمن او نورو

اسلامي خاورو کې د زړه سوي په حالت کې دي، چې دا ټول جنایتونو د پردې تر شا پر اسلامي امت تحیمل شوي او په ټوله نړۍ کې له راډیکالیزم سره د مبارزې په نوم رهبري کېږي. په داسې حال کې هغه هېوادونه چې د راډیکالیزم پر وړاندې د خطرناک کمپاین ملاتړ کوي د کېنیا په شمول میلیونونه شلینګه (د کېنیا پیسې) یې تر لاسه کړې، چې یوازې په کېنیا کې ۲۰ میلیونه د تروریزم او راډیکالیزم پر وړاندې د جګړې لګښت ته ځانګړې شوې دي.

دا هغه جنایتونه دي چې ټل مسلمانان ور سره مخ دي؛ خو د حیرانۍ ځای دا دی ډېری رسنۍ چې په بدایه کسانو پورې تړلې، د غربي قدرتونو په مرسته له اوسنیو دولتونو سره یوځای د کمزورو او بې بنسټه خبرونو په خپرېدو سره د مسلمانانو وژلو ته لار هواروي؛ تر څو له همدې لارې د تروریزم ضد سازمانونو له لوري د دغه کار د سرته رسولو له امله وسټایل شي. همدارنګه یاده طرحه د رسنیو د مالکانو له نظره سره د موافقې انګېزې رامنځته کولو لپاره کارېږي. له همدې امله حتی له ځېړنو وړاندې رسنیو داسې راپورونه خپاره کړل، چې په سیمه کې یوه مشکوک مسلمان ماینونه ایښې او له لېرې واټن کنټرولېږي.

نو پر همدې اساس د کېنیا په حزب التحریر کې ستاسو ورونه تاسو ته خبر درکوي له هغو دسیسو چې کفار یې ستاسو پر وړاندې جوړوي، مه نهیلي کېږئ، ځکه الله سبحانه وتعالی په دې اړه فرمایي:

**(وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ ۖ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ)**

[انفال:۳۰]

***ژباړه:*** *هغوی چارې کارولې (او نقشه یې جوړوله) او الله سبحانه وتعالی هم تدبیر کاوه. الله سبحانه وتعالی خورا غوره تدبیر کونکی دی.*

ربښتیا هم چې زموږ مسلمانانو عزت د یوې ایډیولوژۍ په توګه په اسلام کې دی او پاتې هغه څه دي چې د مسلمانانو د مخ اړولو په موخه پر اسلام تحملېږي. په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**(الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا)**

[مائده: ۳]

***ژباړه:*** *نن مې ستاسو دین بشپړ کړ، خپل نعمت مې پر تاسو پوره کړ او اسلام مې ستاسو د دین په توګه منظور کړ. له همدې امله د حلالو او حرامو مراعات وکړئ.*

دغه فرض د الله سبحانه وتعالی له لوري دي چې باید پر اسلام منګولې ولګوئ او له هغه پرته بل څه ونه منئ؛ ځکه اسلام د الله سبحانه وتعالی له لوري بشپړ دین دی او الله سبحانه وتعالی له خپل دین سره نصرت کوي، که څه هم د کافرانو نه خوښېږي او د له منځه وړلو لپاره یې هر ډول فکري او فزیکي وسایل وکاروي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً)**

[بقره: ۲۰۸]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! تاسې په هر اړخیز ډول په اسلام کې ننوځئ.*

زموږ اختلافونه باید د فکري ښوونځي او ډلې له پلوه د راډیکال مسلمان په نوم سره د غرب په دام کې د لوېدو لامل نه شي؛ ځکه د مسلمانانو یووالی او ځواک د دوی په یوځای کېدو کې نغښتی دی. دا ډېر لوی

ګواښ دی؛ که کوتاهي وکړو، نو له شک پرته چې خپل ځانونه به په جنجالونو کې ووینو، چې زموږ تر منځ د شخړو لامل کېږي او دا د غرب اساسي موخه ده.
له راډیکالېزم او ترورېزم سره په جګړه کې د تروریستانو رهبران یهودي دولت او امریکا دي چې په ښکاره یې په دغه جګړه کې اسلام او مسلمانان خپله موخه ګرځولي؛ چې په دغه برخه کې یهودي دولت نړیوال کنفرانس جوړ کړی و او امریکا د یاد کنفرانس د مالي او پالېسیو په برخو کې بې شمېره لګښتونه وکړل.
پر موږ مسلمانانو او هغو کسانو چې عدالت غواړي لازمه ده، چې د همدې پدیدې پر وړاندې چوپه خوله پاتې نه شو او کله چې دا ډول پېښې رامنځته کېږي، باید په جرات او ډاډه زړه له کوم ډار پرته د هغوی پر وړاندې ودرېږو او په سختو ټکو یې وغندو. په داسې وخت کې موږ باید د خاینو رهبرانو او درباري عالمانو نه تمه ونه لرو، چې زموږ په استازیتوب خبرې وکړي؛ ځکه ټولو ته معلومه ده چې هغوی د خپل مسولیت په سرته رسولو کې غفلت کوي.
دا هم ښکاره ده چې د مسلمانانو پر وړاندې ورستي ظالمانه کارونه، د ښځو او ماشومانو په ګډون د هغوی د نیولو او مړینې لامل شول. له دې بې ځایه ذلیل حالت څخه خلاصون لپاره موږ ته اړینه ده چې د خلافت په اډانه کې د اسلامي ژوند راژوندي کېدو لپاره هڅې او دعوت وکړو.
نو پر همدې اساس د کافرانو شکنجې او وژنې باید موږ له خپلې اصلي موخې ونه ګرځوي، ځکه دا د الله سبحانه وتعالی له لوري یوه ازموینه ده او هغه کسان چې په دې لاره کې صبر کوي، د هغوی ځای جنت دی. پر موږ اړینه ده چې د نبوت پر تګلاره د خلافت په بیا راتلو ایمان ولرو او شکمن نه شوو. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**(وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ)**

[نور: ۵۵]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی له هغو کسانو سره چې ایمان راوړي او ښه عملونه وکړي، ژمنه کړې چې هغوی به په ځمکه کې په همغه ډول خلیفه ګان وګرځوي، لکه له هغوی څخه چې وړاندې تېر شوي دي. د هغوی لپاره به هغه دین په قوي بنسټونو ودروي چې الله سبحانه وتعالی ورته خوښ کړی دی او د هغو د وېرې ( اوسنی) حالت به په امن ورته بدل کړي. هغوی دې زما بندګي کوي او له ما سره دې څوک نه شریکوي. څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو هغوی فاسقان دي.*

**حزب التحریر- کینیا**

**۱۴۳۸ هـ.ق، د رجب ۲۴مه**

**۲۰۱۷ م، د اپرېل ۲۱مه**